# د بیولوژیکې تنوع د ژغورنې لپاره د طبیعت د نړیوال سازمان له لورې د ساتنې کټګورۍ

**پوهنمل وفاالرحمن وفا[۱]، پوهنیار کریمه وردک[۲]**

[۱،۲]دیپارتمنت محیطزیست، پوهنځی محیطزیست، پوهنتون کابل، کابل، افغانستان

ایمیل: wafaurahmanw@gmail.com

**لنډیز**

په نړۍ کې دنفوسو ډیروالی او تکنالوژي چټک پرمختګ ددې لامل شوی ترڅو دځمکې پرمخ شته بیولوژیکې تنوع سختو ګواښونو سره مخ کړي. زموږ د مطالعې موخه دا ده، چې طبیعت ساتنې نړیوالې ټولنې ساتنې کټګورۍ تشریح کړو. په نوموړې مطالعه کې د طبیعت ساتنې نړیوالې ټولنې اسناد او د ساتنې لارښوونېز لوایح په کیفي بڼه څېړل شوي. په پایله کې IUCN د طبیعت ساتنې لپاره نهه کټګورۍ تاسیس کړې دي، منقرض شوي بڼې (EX)، په وحشي توګه منقرض شوي (EW)، تر شدیدګواښ لاندې ژوندبڼې (CR)، ترګواښ لاندې بڼې (EN)، زیانمنې بڼې (VU)، هغه بڼې چې نږدې ګواښل کېږي (NT)، هغه بڼې چې د زیاتې اندېښنې وړ نه دي (LC)، هغه بڼې چې په اړه پوره مالومات موجود نه وي (DD)، ناارزول شوې بڼې (NE). د نوموړو کټګوریو په رڼا کې د هېوادونو او نړۍ په د ژوندبڼو ساتنې سورلیست برابرېږي او دهغوی د ساتنې لپاره لازم اقدامات ترسره کېږي.

کلیدي اصطلاحات: د ساتنې کټګورۍ؛ د طبیعت ساتنې نړیواله ټولنه؛ بیولوژیکې تنوع؛ زیان منه؛ منقرض

# IUCN Categories for biological diversity Conservation

**Sr. Teaching Asstt. Wafaurahman Wafa[1], Jr. Teaching Asstt. Karima Wardak[2]**

[1,2]Department of Environmental Protection, Faculty of Environment, Kabul University, Kabul, Afghanistan
Email: wafaurahmanw@gmail.com

**Abstract**

Current population growth and technological advancement are adversely affecting and endangering global biological diversity. Even though human beings began their life as living creatures, and as powerful species on earth, believing that all species and resources are only for their use. The International Union for Conservation of the Nature IUCN has established some conservation categories to protect species. The aim of the study is to describe the conservation categories. The qualitative method was used to analyze the IUCN, documents and regulations. The result shows that IUCN has established nine categories [Extinct (EX), Extinct in the Wild (EW), Critically Endangered (CR), Endangered (EN), Vulnerable (VU), Near Threatened (NT), Least Concern (LC), Data Deficient (DD), and Not Evaluated (NE)] for analyzing the species condition. Furthermore, based on these categories the example of species was given which has analyzed. Additionally, the red list of a country, region, and global has determined and taken action for species conservation.

Keywords: Conservation Categories; IUCN; Biological Diversity; Vulnerability; Extinct

**سریزه**

الله پاک طبیعت په داسې یوه توازن سره پیدا کړی دی، چې هر ساکښ او فزیکي توکي په کې خپله خپله دنده پر مخ بیایي، خو که چېرته د ژوندیو موجوداتو په شمېر کې زیاتوالي او یا کموالی راځي نو بیا دغه توازن د خنډ وځنډ سره مخ کېږي، خو په اوسني پیر کې انساني نفوس د ډېروالی له امله ځیني ژوندي موجودات په طبیعت کې د ګواښ سره مخ دي. ولې ژوندېنې ساتل کېږي؟ ددې پوښتنې د ځواب لپاره اړینه ده ووایو ،چې ژوندبنې د انسانانو لپاره ارزښت لري، او د یوې منبع په څېر ترې په بې شانه توګه زیاته ګټه پورته کوي، نو په دې اساس د انقراض له ګواښ سره مخ دي، خو د ځینو انواعو په استوګنځایونو کې انسانان خپل پرمختیایي کارونه پر مخ بیایي او نوموړې ژوندبنې ته په ارزښت نه قایلېږي، نو ځکه په یو نه یو ډول ژوندي موجوداتود انسانانو له خوا یا په مستقیمه او یا نامستقیمه بڼه له ګواښ سره مخ کېږي.

هغه ژوندبنې چې د ګواښ سره مخ د ي او انسانان یې په بې شانه ډول مصرفوي په کار ده، چې د دغې لګښتونو مخه ونیول شي او که له لګښت پرته امکان نه وي نو مجبور یو دغه لګښت کنټرول او تنظیم کړو، که چېرې د ژوندبڼو څخه ګټنه همداسې دوام ومومي نو په نږدې وخت کې به انساني ټولنې او طبیعت د ارزښتمنو ژوندبڼو څخه لاس ووینځي. نو اړینه ده د انسانانو اړتیا او طبیعت د انډول په موخه دغه بنې باید وساتل شي او یا هم په کنټرول شوي ډول وکارول شي.

**شالید**

IUCN د مختلفو سازمانونو څخه تشکیل شوې اتحادیه ده. چې په کمیاب شکل هم پکې دولتي او غیر دولتي سازمانونه پکې عضویت لري. نوموړې اتحادیه عامه، خصوصي او غیر دولتي سازمانونه د پوهې او وسایلو سره داسې تهیه کوي، چې انسان ته قدرت ورکوي تر څو په ژوند کې اقتصادي پرمختګ وکړي او د طبیعت په ساتنه کي رغنده ونډه ولري. په ۱۹۴۸ کال کې د فرانسې هیواد په فونټاینبل ښارګوټي کی دIUCN بنسټ کیښودل شو. نوموړې اتحادیه په نړۍ کې یوه تر ټولو لویه او ډیره پیچلې چاپیریالی شبکه ده(۱). IUCNد تجربو او زیرمو تهیه کونکې اتحادیه له ۱۳۰۰ سازمانونو څخه تکشیل شوې او ۱۶۰۰۰ متخصصین یې غړي توب لري. د طبیعت ساتنې نړیواله اتحادیه د طبیعت اړوندو مسایلو او د هغه ډولونو کوم چې ساتنې ته اړتیا لري په نړیواله کچه د تشخیص او ساتنې مسوولیت لري. د IUCN متخصصین د ژوند بڼو د ساتنی د لارو چارو په موخه په شپږو کمیسیونونو کې تنظیم شوي چې عبارت دي له: چاپیریالی قانون، ساتل شوې سیمې، اجتماعي او اقتصادي پالیسيـ، د ایکوسیستمونو مدیریت، ښوونه او روزنه او ارتباطات (۲). د طبیعت ساتنې

نړیواله اداره په نړۍ کې د هرې برخې د ایکوسیستمونو د ساتنې لپاره داسې اقدامات په لاره اچوي چې د هغو ټولنو کوم چې ژوند او اقتصاد یې له همدې ایکوسیستمونو سره تړلئ وي د هرکلي (ښه راغلاست) سره مخ کیږي (۳).

د IUCN متخصصین په ټول یوه خوله پدې باور دي چې د وچې او اوبو ایکوسیستمونو د ساتنې لپاره د اړونده ټولنو معیشت (ژوندتوکي) هم په نظر کې ونیول شي (۴). د بیلگې په توگه په هند هیواد کې د منگرو (Mangrove) ځنگلونو د ساتنې په موخه IUCN داسې پروگرامونه په لاره اچولي کوم چې د هغه سیمې د ټولنو په اقتصاد کې رغنده رول لوبوي او هم د منگرو ځنگونه کوم چې د انساني فشار له کبله د نابودۍ پرلور روان و د بیا رغیدو حالت ته راگرځیدلي (۵).

## دخیړنې موخې

لکه څنگه چې ټولو ته جوته ده، له طبیعت څخه د انسانانو بې کنترله کاروونې یا گټنې د نړۍ طبیعي ایکوسیستمونه له جدي گواښ سره مخ کړي، په تیره بیا په مخ پرودې هیوادونو کې دا ستونزه ډیره جدي ده. که موږ د خپل هیواد افغانستان چاپیریالي وضعیت ته پام وکړو نو روانو بدبختیو، جنگونو، بیکاریو، اقتصادی ستونزو زموږ طبیعي زېرمې هغه که بیولوژیکي وي او یا غیربیولوژیکي له سختو گواښونو سره مخ کړې،

د دې خیړنې موخه داده ترڅو افغانان هم د IUCN له حفاظتي کتگوریو سره آشــنا او د خپلو طبیعي زیرمو په ساتنه کې له دې کټگوریو څخه گټنه وکړي.

## څېړنې لار

پدې څیړنه کې د IUCN له لارښـونو، مقرراتو، قوانینو او له یو شـمیر بین‌المللي مقالو او کتابونو څخه استفاده شوې ده.

## د څېړنې پوښتنې

دغه څېړنه لاندې پوښتنې ځوابوي:

الف. د ژوندبڼو د ژغورنې لپاره د طبیعت د نړیوال ســازمان له لورې د ســاتنې کومې کټگورۍ وضــع شوي دي؟

ب. کومې ژوندبڼې او وحشي ژوي د ساتنې نړیوال سازمان د ساتنې په کومه کټه گورۍ کې شاملیږي؟

### د څېړنې موندنې

**دطبیعت ساتنې نړیواله ټولنه (IUCN international union of conservation of the nature)**

IUCN له دولتي او غیر دولتي سازمانونو څخه جوړه شوې اتحادیه ده، نوموړې اتحادیه ملګروملتونو په مختلفو ځانګو کې د مثال په توګه د غذا او کرنې په برخه کې او د ښــوونې او روزنې او فرهنګي چارو ســازمان په پروګرامونو کې پراخه ونډه لري او نوموړو ســازمانونو ته د مشــاورینو په حیث دنده ترسره کوي. د IUCN پـه ترکیـب کې ۱۰۷ دولتي نمـاینـده ګی، ۷۱ ایـالتونـه، ۶۷۵ ملي غیر دولتي سازمانونه ۶۸ بین‌المللي غیر دولتي سازمانونه وجود لري، د طبیعت ساتنې نړیوالې ټولنې (IUCN) له مرکزي افریقا او د جنوب ختیځې آســیا لـه یوې وړې برخې پرتـه نوره ټولـه نړۍ د خپلو خدماتو پـه واسطه پوښلې (۶).

### د طبیعیت د نړیوالې ټولنې تاسیس

په ۱۹۴۸ میلادي کال کې د فرانسې په هیواد کې د طبیعت نړیوالې ټولنې بنسټ کېښودل شو. نوموړې ټولنه چې په نړۍ کې یوه تر ټولو ټولنو پراخه ټولنه ده ۱۳۰۰ ملي او بین‌المللي ســازمانونه‌یی غړیتوب لري او ۱۶۰۰۰ متخصصین پکې فعالیت کوي (۶).

IUCN د ژوند بنو د ســاتنې لپاره ځانګړي معیارونه ټاکلي، چې تطبیق یې د ژوند بنو په ســاتنه کې د پام وړ پایلې درلودلې دي د بېلګې په توګه د کبانو د ســاتنې معیارونو څخه کوم چې په هغه کبانو باندې عملي شول چې شمیر یې ډیر کم و، خو د IUCN معیارونو له عملي کیدو وروسته چې کومه ارزونه وشــوه د نوموړو کبانو په شــمیر کې د پام وړ زیاتوالی راغلی و او د زیانمو ژوند بنو په اړه معیارونه یې د یادولو وړ دي کوم چې عملي کیدو یی ډیره مثبته پایله له ځانه سره لري (۷).

**د طبیعت ساتنې نړیوالې ټولنې تر ګواښ لاندې ډولونو سور نوملړ (Red list of IUCN)**

د طبیعت ساتنې ټولنې سور نوملړ دنړۍ په سطحه د حیواناتو او نباتاتو دساتنې په اړه تر ټولو جامع او تفصــیلي زیرمه ده(۸)، چې چاپیریالي وضــعیت ته یې په کتو ژوندۍ بنې پکې په لاندې کتګوریو وېشل شوې دي.

### د ساتنې کتګورۍ

د ســاتنې چارو لپاره د انقراض پر وړانـدې د زیـانمنو بنو پېژنـدل یوه اړین کـار شــمېرل کېږي. د کمیابو بنو د پېژندلو او وضــعیت د معلومولو لپاره چې د خطر له ګواښ سره مخ دي، د ســاتنې د موخو لپـاره، د طبیعـت نړیوالې ټولنې (IUCN) نهـه ســاتونکي کتګورۍ جوړې کړي دي. IUCN هغه بنې چې پـه) بشــپړخطر(CR ) پـه خطر(EN) او زیـانمنونکي (VU) حالتونو کې دي،

هغه ژوندبنې دي چې د انقراض خطر يې ګواښوي. د (خطر) په دغو درېو کټګوريو کې د طبيعت ساتنې نړيوالې ټولنې د انقراض د احتمال لپاره زيات اقدامات ترسره کړي دي. دغه کټګورۍ په ملي او نړيواله کچه د تهديد شويو ژوندبنو د سرو اطلاعاتو او سور نوملړ د کتابونو د چاپ له لارې د بنو په اړه ځانګړې اندېښنې راپارولې دي، هغه بنو پېژندل د انقراض خطر يې ګواښوي د هغوی د ساتنې لپاره د نړيوالو تړونونو له لارې لکه په نړيوال تجارت کې د ترخطر لاندې بنو ژغورل Conservation on International Trade in Endangered Species (CITES) .

**منقرض شوي بنې Extinct (EX)**

منقرض شوي بنې Extinct (EX) هغه بنې (يا فرعي بنې يا انواع دي) چې نور هېڅ شتون ونه لري. د بېلګې په توګه ډايناسورونه چې يو وخت د ځمکې د کرې تر ټولو پياوړي حيوانات وو، د دوي نسل شاو خوا ۱۶۵ مليون کاله د ځمکې پر مخ ژوند وکړ او د کريتشيوس دورې په پای کې يعنې ۶۵ مليونه کاله مخکې له دې نړۍ په بشپړه توګه منقرض شول.

**په وحشي توګه منقرض شوي Extinct in the Wild (EW)**

په وحشي توګه منقرض شوي (Extinct in the Wild (EW) هغه بنې دي، چې يوازې په کرنه، اسارت کې او يا هم يو اهلي شوی نفوس له خپل اصلي پوړ څخه بهر موجود وي. د بېلګې په توګه توري ته ورته ښکرلرونکې هوسۍ (Scimitar Oryx) چې د شمالي افريقا د سهارا دښتې مشهورې ژوند بنې ګڼل کېدلې خو په اوس وخت کې په له نوموړې سيمې څخه منقرض خو د نړۍ په ځينو نورو به برخو کې تر سترګوکيږي.

**تر شديدګواښ لاندې ژوندبنې Critically Endangered (CR)**

هغې بنې چې تر ډېرو خطر لاندې دي Critically Endangered (CR) هغه بنې دي، چې په سرسخته توګه د وحشي ــ نړۍ څخه د منقرض کېدو په حال کې وي او يا د Aڅخه Eپورې معيارونو (لاندې به تشريح شي) څخه يو هم پرې پلي شي. د بېلګې په توګه ځنګلي کونګ چې هندوستان هيواد کې په وحشي شکل ژوند کوي هغه مرغه دی چې انقراض يې په جدي شکل ګواښوي نوموړی مرغه شا وخوا يوه پيړۍ چا د هند په وچه کې نه و ليدلی خو د طبيعت ساتونکو د نه ستړي کيدونکو هڅو په پايله کې وروسته له ۱۱۳ کلونو څخه بياځلې وليدل شو (۹).

**تر گواښ لاندې بنې Endangered (EN)**

تر گواښ لاندې بنې Endangered (EN) هغه بنې دي چې د وحشـــي نړۍ څخه د منقرض د ډېر زیات خطر لاندې وي او یا د A څخه E پورې معیارونوڅخه یو هم پرې پلي شي. د بېلگې په توگه د شمال ختیځې امریکا وحشی کفترې چې د مسافرو کفترو په نوم شهرت لري دوه پیړۍ مخکې د نړۍ ډېر نفوس لرونکې کفترې وې خو کله چې په اتلســـمه پیړۍ کې د تجارتي زیرمې په ډول د غذایي موادو په حیث بازار ته عرضــه شــوې نو په شــمېر کې یې د پام وړ کموالی ولیدل شــو همدا لامل دی چې تر خطر لاندې ژوند بنې وگڼل شوې (۱۰).

**زیانمنې بنې Vulnerable (VU)**

زیانمنې بنې Vulnerable (VU) هغه بنې دي چې له وحشی نړۍ څخه د انقراض لوړ خطر لري، او یا د Aڅخه E پورې معیارونوڅخه یو هم پرې پلي شي. د بېلگې په توگه

**هغه بنې چې نږدې گواښل کېږي Near Threatened (NT)**

هغه بنې چې نږدې گواښـــل کېږي Near Threatened (NT) د هغو بنو څخه عبارت دي، چې د تهدیدېدو کټگورۍ ته نږدې واقع دي، خو فعلاً تر گواښ لاندې نه دي. د بېلگې په توگه قطبي اېږې کوم چې د اقلیمي بدلونونو په مقابل کې زیانمې بنې بلل کېږي.

د اقلیمي بدلونونو له کبله د فقاریه حیواناتو د انقراض کچه ۱۰-۱۰۰ ځلې جگه شوې. اقلیمي بدلونونو ۲۵-۲۰ سلنه د نړۍ په سطحه ژوند بنې گواښوي او که دا حالت دوام ومومي نو جوته ده چې تر ۲۰۵۰ کال پورې به موږ ۱۵- ۳۷ سـلنه بیولوژیکي تنوع له لاسـه ورکړو له پورتنیو ارزونو داسې ښکاري چې اقلیمي بدلونونه شاوخوا د ځمکې د کرې ټوله بیولوژیکي تنوع گواښي (۱۱).

**هغه بنې چې د زیاتې اندېښنې وړ نه دي Least Concern (LC)**

د کمې اندېښـــنې وړ بنې Least Concern (LC) هغه بنې دي تر گواښ لاندې نه دي خو گواښ ته نږدې دي چې تهدید شـــوې بنې نه گڼل کېږي (پراخ او پرېمانه بنې په دې کټگورۍ کې راځي. د بېلگې په توگه: هغه نباتات چې په پراخو جغرافیایي سیمو کې ژوند کوي (۱۲) لکه سـوزن برگان چې په سـړو سـیمو کې په پراخه پیمانه لیدل کېږي او په حیواناتوکې یې ښـه بیلگه چرچنې (Sparrows) دي، چې تقریبا د نړۍ په هر گوټ کې لیدل کېږي.

**هغه بنې چې په اړه پوره معلومات شتون نه لري (Data Deficient (DD**

هغه بنې چې په اړه پوره مالومات موجود نه وي (Data Deficient (DD د هغو بنو څخه عبارت دي، چې د انقراض د خطر د ټاکنې لپاره ددې ډول بنو په اړه پوره او کره مالومات موجود نه وي. د بېلګې په توګه: د IUCN د سور نوملړ پر بنسټ د نړۍ له هر شپږو ژوند بنو یوه یې داسې بنه ده، چې په اړه‌یی پوره معلومات وجود نه لري، زیاتره هغه بنې چې په اړه‌یې کافي معلومات موجود ندي غیر فقاریه حیوانات، د اوبیزو ایکوسیستمونو حیوانات، او نباتات شامل دي (۱۳).

**نا ارزول شوې بنې (Not Evaluated (NE**

نا ارزول شوې بنې (Not Evaluated (NE تر اوسه دا ډول بنې د سور لیست د معیارونو له مخې نه دي ارزول شوي. د بېلګې په توګه: هغه بنې چې د انسان په ژوند او اقتصاد کې چندان ونډه نلري چې نا ارزول شوې بنې دي، واړه جسم لرونکې بنې لکه غیر فقاریه او په فقاریه بنو کې امفیبونه نسبت نورو ژوند بنو ته ډیر ندي ارزول شوي (۱۴).

کله چې له سور نوملړ په ملي او سیمه ییزه کچه ګټه اخیستل کېږي،دوه نورې اضافي کټګورۍ هم په هغه کې وجود لري (د طبیعت د ساتنې نړیواله ټولنه، ۲۰۰۳م کال).

**په سیمه ییزه کچه منقرض شوې ژوندبنې (Regionally Extinct (RC**

هغه بنې چې په سیمه ییزه کچه منقرض کېږي (Regionally Extinct (RC دغه ډول بنې په هېواد (سیمه) کې نه پیدا کېږي، خو د نړۍ په نورو برخو کې موجود وي.

**ناتطبیق شوې (Not Applicable (NA**

ناتطبیق شوې (Not Applicable (NA هغه بنې دي چې دسیمه یز سور نوملړ لپاره د شرایطو پوره کوونکي نه دي لکه ددې لپاره چې دوی د سیمې په طبیعي چوکاټ کې شامل نه دي ( دوی له نورو ځایونو څخه دلته راوړل شوي وي) او یا هم ددې لپاره چې په سیمه کې یوه وړه مهاجره ډله وي.

**د کټه ګوریو د ټاکنې معیارونو لپاره معلومات**

د کټیګوریو ټاکل د لاندې معلوماتو پورې اړه لري او دغه راز د هغوی د سور نوملړ له مخې د ورکړل شویو قیمتونو پورې اړه لري چې د طبعیت ساتنې د نړیوالې ټولنې له خوا ورکړل شوي دي.

الف. د ژوندبنو په شمېره کې پام وړ کموالی؛

ب. د بنو په وسیله د ټولې نیول شوې ساحې پراخوالی؛

ج. د بنو په شمېر کې اټکل شوی کموالی؛

د. د هغو بالغو افرادو شمېر چې اوسمهال ژوندي دي؛

هـ. دځو کلونو او یا ځانګړو نسلونو کې د انقراض احتمال.

نوموړی سیستم یوه معیاري او کمي میتود وړاندې کوي، چې ددې پر مټ نور ساینس پوهان کولای شي د منل شــویو کمي معیارونو سره ســم او د ژوندبنې له هر ډول معلوماتو نه په ګټې اخیســتنې سره ارزونه او بیا کتنه وکړي. خو په هغه وخت کې چې وپتیېل شي، چې د پرېکړو لپاره له ناکافي او ناکره معلوماتو څخه په ګټې اخیستنې سره پرېکړه وشي. په سمه کړنلاره د معلومات راټولول او په غوره توګه د دندو ترسره کول، په ځانګړي توګه په مخ پر ودې هېوادونو کې او په هغو حالاتو کې چې په چټکۍ سره بدلون مومي، زیات لګښــت او وخت ته اړتیا لری. د دغو محدودیتونو په پام کې نه نیولو سره د بنو د وېش دغه سیستم نظر نورو میتودونو چې په شخصيـ بنه ترسره کېدلو بنـه پایله ورکړی دی او د بنو په ســاتنه کې خورا ګټور دی. د طبیعت ســـاتنې نړیوالې ټولنې د نویو کټګوریو څخه په ګټې اخیستنې سره هغه ګواښونه چې چې نباتي او حیواني بنو ته متوجه دي د سرو اطلاعاتو او سور نوملړ د کتابونو په ټولګه کې اروزلي او تشریح کړي دي.

د ساتونکي وضعیت د څارنې له مخې بنې د وخت په تېرېدو سره، دا امکان برابروي چې ایا ژوندبنې د حفاظتي چارو پر وړاندې مثبت غبرګون ښيي او که یا هم ګواښل کېږي.

**پایلې او مناقشه**

د ژوندیو موجوداتو او په تېره د طبیعت د ساتنې په اړه په درېیمه نړۍ او افغانستان کې سیاسي ژمنتیا څومره چې لازمه ده نشــته. په افغانســتان کې د ملګرو ملتونو د چاپېریال ســاتنې اداره چې د وحشــي ژویو د ســـاتنې په اړه پوره مالي امکانات لري، په بېلابېلو دلایلو له مخې هغه ډول چې لازمه ده، کوم ځانګړي ګامونه نه دي پورته کړي. که کوم کار سرته رسوي هغه هم په پروژه یي بنه سرته رسوي او په لوی لاس هڅه کوي، چې د افغانستان د چاپېریال ساتنې اداره له کدري پلوه کمزورې معرفي کړي او ټولې پروژې له ختمېدو سره له منځه ځي او متداوم شکل نه غوره کوي.

**وړاندیز**

د څېړنې پوښــتنو ته د ځوابونو په پام کې نیولو سره او دغه راز د طبعیت د نړیوال ســازمان د ســـاتنې کټګوریو د لارښود له مخې لاندې موارد وړاندیز کېږي:

۱. د چاپېریال ساتنې ملي اداره باید ټولې ژوندبنې چې په افغانستان کې تثبیت شوي دي د ساتنې د نړیوال سازمان د ساتنې د کټګوریو د لارښود له مخې وارزوي.

۲. دولت باید د ساتنې د نړیوال سازمان د ساتنې د کټګوریو د لارښود له مخې د ډولونو د ساتنې په برخه کې وړ ګامونه پورته کړي.

۳. دولت باید په ارزوونو کې په ګوته شــوي ګواښــونه او خنډونه له منځه یوسي او په معیاري بڼه د ساتنې سیمې په ګوته او اعلان کړي.

۴. په دې برخه کې باید چاپېریال ســاتنې ملي ادارې او اړوند ســکتوري ادارو د ظرفیت کچه پورته یوړل شي، ترڅو په خپله اداره وکولای شي د ســاتنې د نړیوال ســازمان د ســاتنې د کټه ګوریو د لارښود له مخې د ژوندیو وضعیت وارزوي.

## منابع

(١) ریچارډ پریماک. ژغورونکي بیالوژي، ملي تحریک فرهنګي ځانګه، د وفاالرحمن وفا ژباړه. کاب: سهر مطبعه، ۲۰۱٦.

(2) Andermann T, Faurby S, Cooke R, Silvestro D, Antonelli A. iucn_sim: a new program to simulate future extinctions based on IUCN threat status. Ecography (Cop). 2020, pp. 1–15.

(3) Warmenbol C, Smith M. International union for conservation of nature (IUCN). Wetl B I Struct Funct Manag Methods. 2018, pp. 665–9.

(4) IUCN. Newsletter of the Species Survival Commission. 1993; (47), p. 76.

(5) Union I. Leaflets_Final. 1948.

(6) Rodríguez-Rodríguez EJ, Beltrán JF, El Mouden EH, Slimani T, Márquez R, Donaire-Barroso D. Climate change challenges IUCN conservation priorities: a test with western Mediterranean amphibians. SN Appl Sci. 2020, 2(2).

(7) McDonald K. IUCN: a history of constraint. Perm Work Cent Philos Law. 2003, pp.1-25.

(8) Strona G. Assessing fish vulnerability: IUCN vs FishBase. Aquat Conserv Mar Freshw Ecosyst. 2014; 24(2), pp. 153-4.

(9) Rodrigues ASL, Pilgrim JD, Lamoreux JF, Hoffmann M, Brooks TM. The value of the IUCN Red List for conservation. Trends Ecol Evol. 2006; 21(2), pp. 71-6.

(10) Conservation H. C Ritically E Ndangered S Pecies. 2018;13(January), pp. 146-57.

(11) Kareiva P, Floberg J. Endangered species. Encycl Ecol. 2018, pp. 424-30.

(12) Mace GM. Identifying the World ' s Most Climate Change Vulnerable Species : A Systematic Trait-Based Assessment of all Birds , Amphibians and Corals. 2013, pp. 8(6).

(13) Bachman S, Walker BE, Barrios S, Copeland A, Moat J. Rapid least concern: Towards automating red list assessments. Biodivers Data J. 2020, 8(1).

(14) Bland LM, Bielby J, Kearney S, Orme CDL, Watson JEM, Collen B. Toward reassessing data-deficient species. Conserv Biol. 2017; 31(3), pp. 531-9.

(15) Kestemont B. The bottom-up assessment of threatened species. Nat Conserv Res. 2019; 4(3), pp. 93-106.

(16) Richard.B. P.Essential of Conservation Biology. Fourth Edition. Sinauer Associates, Inc.; 2006, 23 Plumtree Road, Sunderland, MA 01375 USA.